
د رازونو په لټه کې
جاسوسي ناول
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د کتابونو لوستونکو، کورنۍ، ملګرو، او د افغانستان ټولو ولسونو ته .

"سریزه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپیڅلي ذات په سپیڅلي نامه!
د رازونو په لټه کې ناول مې اتم کتاب دی چې
لیکم یې د الله تعالی رحم دی چې د کتاب لیکلو
وړتیا یې راکړي دا کتاب په افغانستان کې د یو
جاسوس کیسه ده زما موخه د دې کتاب څخه په
افغانستان کې د بهرنیانو د سیالې په اړه ده تر
څنګ مې هڅه کړه د افغانانو هغه کړنې چې په
ورځنۍ ژوند کې ترسره کوي وغندم ما دا کتاب
د طالبانو په ملاتړ ندی لیکلې بلکې له دې لپاره
مې لیکلی چې زمونږ دا خراب اعمال د اسلام
سره په ټکر کې دي خو نړیوال زمونږ دا اعمال
اسلام پسې تړي او اسلام پرې بدناموي بل
زمونږ په ټولنه کې افراط ډیر زیات دی دا خبره
مونږ ته د تفسیر ښوونکې کړي وه هغه یوه ورځ
ټولګې کې وویل عربې هیوادونه مونږ افغانانو ته
افراطیان وایې ځکه مونږ دین کوچنې حکمونه
لوي کوو او لوي حکمونه کوچنې کوو نور مو

(c) ketabton.com: The Digital Library




وخت نه نیسم خو یوه خبره چې باید یاده کړم
هغه دا ده چې د کتاب نوم ولید صافی چې
ملګری مو دی خوښ کړی د بهرنیو کسانو
نومونه د کاکا ځوی بلال صافی خوښ کړی
"ادریس ساحل ساپی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



(ـــــــــ کــتـــاب پــیــژنـــدنـــه ـــــــــ)

د کتاب نوم: د رازونو په لټه کې

لیکـــــوال: ادریس ساحل ساپی

کــمپـــوز: ادریس ساحل ساپی

اړیکـــــه: ادریس ساحل صافی

فــــــــســــــــــبـــوک

(ـــ د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي ـــ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره په شنو لمنو کې تېره شوې سپيره لار د غره تر سره ختلې وه د جوزا مياشت په ختميدو وه د غرمې يولس بجې وې لمر د اسمان نيمايې ته رسيدلی و تود لګيده د غره لاندې تير شوې سرک کې د يو ټانګه لوګې ختل تر اوسه يې اور نه و مړ شوی د غره نيمايې کې دوه کسانو مخونه په نقابونو پټ کړي و سپينې جامې خړې وې په تورو سترګو کې سترېا له ورايه ښکاريده لکه تازه چې له جګړې راغلې وې يو ځوان ګوته په ماشه روسې ټوپک نيولې و ورسره کس بيا د يوې انجلۍ په غاړه کې اچول شوې پړې ته زورونه وهل انجلۍ زيړه دريشې اغوستې وه د لوپټې نشتون له امله يې طلايي ويښتان ښکاريده ويښتان يې د ملا په تير برابر پراته و په سپين ګرد مخ او قهوې سترګو کې ويره پرته وه رنګ يې زيړ و له ډاره يې پښې ځان پسې په زور اخيستې غر مخ پورته و انجلۍ تيزه ساه اخيسته د روسې ټوپک خاوند په غوصه وويل: د پرنګۍ لورې راتيزه شه که نه له همدې ځايه به دې جهنم ته وليږم انجلۍ به د ځوان له غوصې پوهه شوه چې دا ګواښې مزل به يې تيز کړ خو د ځوان په خبره به يې سر خلاص نشو په خوارو سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وروګټل ځوان وويل: ولې داسې رټ رټ راګورې انجلې حيران حيران ورګټل په ذهن کې به يې څه تير شو ډار به يې لازيات شو خوله يې راجوړه کړه په انګليسې يې څه وويل: هغه کس چې پړی يې نيولی و وويل: څه وايی؟ ځوان وروګټل خبرې پيل کړې د خبرو سره يی خندا ګډه وه وويل: د خپل ژوند سوال به غواړې بيا يې شاته وګټل د دوې ديرش متره لرې يو کس د دوې په لور راروان و له مخ يې توره ټوټه چاپيره کړې وه قهوې سترګو کې رعب پروت و له ځيرې څلورويشت يا پنځه ويشت کلن ښکاريده برابره ونه او برابر وزن يی درلود ويښتان يې په امريکې کيف خولۍ پټ کړي او ورو مزل يې کوو په لاس کې نيولې امريکۍ دوربين داره ټوپک کې ګوتې وهلې لټ يې ووهه د ټوپک شپيلۍ يې د اسمان په لورې ونيوله تر لږ وخته يې دوربين کې ګټل ډز شو دوه سوه متره لرې په هوا کې روان کارغه غوښې وپاشل شوې او په هوا کې له منځه لاړی يو ځوان وخندل په خندنۍ لهجه يې وويل والا ياسر په لاسونو دې برکت شه الله تعالی دې مه خوار کوه په نښه ويشتلو کې درسره کافر هم سيالې نشې کولی ياسر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: مننه تاسینه دا ستاسو نیک نظر دی او ماشاءالله ټوپک ډیر لوکس دی فکر نه کوم داسې ټوپک له چا سره وي ډیرې ځانګړتیاوې لري همدلته به ویش وکړو ټوپک او سامان زما او انجلۍ ستاسو هر څومره انعام چې درکړو ستاسو دی زه لانجه نه کوم او که ټوپک غواړۍ نو ستاسو له پاره ندی هیڅ ګټه ترې نشئ پورته کولې ځکه دوربین داره دی او زه هم نښان ویشتونکی یم تاسین وویل: رښتیا وایې ټوپک مونږ ته هیڅ ګټه نشې رسولی او که دا انجلۍ تر قومندانه ورسوو ډیر عزت به مو وکړي کیدایشې مشري هم راکړي دا انجلۍ عادې نده فرنګۍ ده فرنګۍ احمده ته ورکې څه وایې؟ احمد وویل: زه هم د یاسر خبرې سره موافق یم یاسر د تاسین او احمد خواته راورسید احمد خپله خبره وغځوله وویل: یاسره دا فرنګۍ ښځی وایې ته ورته غوږ شه یاسر په انګلیسې له انجلۍ وپوښتل ښځی غواړې؟ انجلۍ په حیرانۍ وروګتل له ځان سره یې ورو وویل: دا په انګلیسې څه پوهیږي؟ اواز یې تیز کړ وویل: تږې شوې یم اوبه راکړئ یاسر وویل: اوبه غواړې وایې تږې شوې یم تاسین وویل: زهر دې وڅښي ورته ووایه اوبه نشته ته له مونږ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندۍ یې میلمنه نه یې یاسر وخندل بیا یې تندی تریو
کړ وویل نبی 'ع' د زندانې سره داسې چلند ندی کړی
هغه به ورسره دومره ښه چلند کوو چې زندانې به د
بند په وخت کې ایمان راوړ او د حق په لار به روان
شو مونږ هم باید د بنیانو سره داسې چلند وکړو کوم
چې زمونږ خوږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم کړی
تر څو اسلام غوره دین معرفې کړو زمونږ دین اسلام
د مسلمانانو په غوره اخلاقو تر دې ځایه رارسیدلی
باید د بندې سره ښه چلند وکړو زورونه ورنه کړو که
چیرې له بندې سره ظلم وکړو زمونږ او د کافرو فرق
په څه کې شو؟ زمونږ دین د امن دین دی او باید
عادلان نیک او غوره واوسیږو. احمد وویل: یاسره تا
ښه خبره وکړه رښتیا هم اسلام د امن دین دی او باید
له هر چا سره ښه چلند وکړو بیا یې جیب ته لاس کړ
بوتل یې راوویست اوبه یې انجلۍ ته ونیولې لږ
وروسته د انجلۍ په لاس کې نیول شوی بوتل شړ و په
خوارو سترګو یې یاسر ته وکتل یاسر خپل جیب څخه
بوتل راوویست شړ و اوبه یې نه درلودې انجلۍ ناهیلې
شوه یاسر تاسین ته وکتل تاسین په نه زړه بوتل ورکړ
انجلۍ هغه اوبه هم وڅکلې د ویرې له امله یې لا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله وچه وه احمد وويل لږ بره چينه ده بيا به هلته
دمه وکړو دا ځای په خطر کې دی ټول روان شو لږ
وخت وروسته ټول د چينې په غاړه ناست و چينه د
ځيړی ونې سره نږدې د غره له يوې لوي تيږې لاندې
وه خلکو د بزګر چينه بلله کيسه يې معلومه وه پخوا
دلته يو بزګر اوسيده له دې چينې به يې خپلو پټو ته په
خرو اوبه وړلې له همغه وخته دا ځای د بزګر چينې
په نوم مشهور و د دې سيمې شاوخوا ښکلې وه ګڼې
ونې ولاړې وې د چينې شاوخوا قدرتې بوټې به هر
پسرلې کې راشنه کيدل د کال تر اخره به و بيا به وچ
شو د چينې اوبه د غره لاندې تير شوي لښتې ته بهيدې
لښتې څو سوه متره اخوا پټو ته تللې و پټو ته څوک
نږدې نه اوسيدل له نږدې کور ورته يو کيلو مټر لاره
وه د چينې له خوا د غره لمنه شنه ښکاريده کله چې به
طالبانو د امريکايانو د موټرو په کاروان بريد وکړ له
جنګه وروسته به يې دمې ته دلته ځانونه رارسول نن
هم له سختې جګړې وروسته ياسر دوې چينې ته او
نورو ملګرو يې ځانونه کلې ته ورسول انجلۍ لاهم
ويريدلې ناسته وه احمد بوتل له اوبو ډک کړ ځان يې
خبرو ته جوړ کړ وويل: ياسره ياسر له مخ څخه نقاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې کړی و په تندې يې لاس راتير کړ لاس يې لوند
شو بيا يې دوه لپې اوبه مخ ته واچولې مخ يې په
دسمال وچ کړ دسمال يې بيرته جيب کې کيښود احمد
ته يې وروکتل احمد له لرې خاموشتيا وروسته وويل تا
ويل چې له جګړې وروسته چيرته روان يې؟ ياسر په
ورو اواز وويل: هو ولې؟ احمد وخندل بيا يې خبره
پيل کړه ياره ياسره چې ته ځې نو له دې فرنګۍ به
تحقيق څوک کوي؟  ما ويل دا تحقيق ترې همدلته
وکړه چې کيسه ختمه شي ستا تر راتګه به ډير وخت
ولګيږي ياسر وويل ستا خوښه زما خوښه همدلته به
يې ترې وکړم مخ يې د انجلۍ په لور راواړو خپلې
سترګې د انجلۍ سترګو کې خښې کړي په نرمه لهجه
يې خبرې پيل کړي وويل مه ډاريږه تاته هيڅوک هم
خطر نشي رسولی يواځې زما پوښتنو ته ځواب راکړه
نوم دې څه دی؟  انجلۍ ياسر ته وروکتل له ځان سره
يې فکر وکړ دا ماته ډيره ګټه رسولی شي که له دې
کس سره خبره وکړم نو له دې ځايه د تيښتې موقع
راته برابرولی شي که په هر قيمت وي زه بايد له دوې
ځان خلاص کړم که دوې پوهه شي چې زه د قومندان
د کاکا لور يم نو مشکل به لوي شي ياسر يې د فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محلونه ړنګ کړل وویل: څه فکر کوي که زما هرې پوښتنې ته جواب رانه کړي نو په مرکز کې به په زور دربانديې حال ووايي ته تور سرې يې زمونږ دين مونږ ته په تور سرې د لاس اوچتولو اجازه نده راکړي انجلۍ وروګتل وويل:  طالبان بی علمه خلک دي ته ځنګه په انګليسې پوهيږي ياسر تر ډيره وخندل بيا يې وويل: زه له تا تحقيق کوم که ته له ما؟  انجلۍ وويل: که ته له ما سره يوه نيکې وکړې زه به له تا سره سل نيکې وکړم ياسر ووويل: زه له تاسره کومه مرسرته وکړم؟  انجلۍ وويل: ته ماته د تيښتې موقع برابره کړه ته چې هر څه غواړې زه به يې درکړم ياسر وويل أننن ته ښه خبره کوي خو ته به ماته په بدل کې څه شی راکړې؟ انجلۍ وويل: څه چې ته غواړي تاسين وويل: څه وايې ياسره؟ ياسر احمد ته وروګتل هغه په حيرانې د ياسر خولې ته ګتل ياسر وويل: ته لږ صبر وکړه بيا يې انجلۍ ته وويل: زه دا شيان غواړم يو بې جی فی اسه کمپيوټر، موبايل او د همدې وسلې مرمۍ بيا يې په غوښتونکې نظر انجلۍ ته وګتل انجلۍ وويل: بس همدا شيان؟ ياسر وويل: هو انجلۍ وويل: دا کم ندې؟ ياسر وخندل بيا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروا نه کوي خو باید بی جی فی اسه وي زه ساده
سړی نه یم که دې له ځار لاندې ونیولم بیا زه هم
پوهیږم چې خپل بدل څنګه واخلم انجلۍ وویل: ماته
خپل ژوند مهم دی ته غم مه کوه د دې شیانو سربیره
به درته هره میاشت دوه زره ډالر هم درکوم یواځې
مې له دې ځایه وژغوره یاسر وویل: کله چې ما درته
اشاره وکړه ته به تښتې که له دغې کوز ځایه پناه شوي
بیا څوک دومره زړه نه لري چې تا پسې درشي یواځې
زه به دې یو ډز سرسرې وولم چې ما څوک ملامت نه
کړي انجلۍ ومنله وویل: له مرګه زخمیتوب ښه دی بل
له ما چې دې کوم موبایل واخیست زه هغې ته زنګ
وهم یاسر وویل: سمه ده زه درته ځای ښایم هلته به یې
کیږدې انجلۍ وویل: سمه ده یاسر لړ اخوا شو بیغمه
کیناست احمد وخندل د خولې مخامخ سپین غاښونه یې
ښکاره شول د ټوکې په بڼه یې وویل: یاسره خپه کیږه
مه زه دې ته بیخې تحقیق نه وایم تا خو له دې سره
ګف لګوو یاسر وروګتل احمد خندل تاسین خپلې
سترګې د انجلۍ په لور اړولې وي په ځیر ځیر یې
ورګتل یاسر څه ونه ویل احمد هم خوله راټوله کړه
تاسین ناڅاپه ټکان وخوړل لاس یې وړاندې کړ مخابره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راواخيسته په مخابره کې له هغې لورې غږونه راتلل تاسين جواب ورکړ قومندان غږيده خبر يې ورکړتر څو د چينې له غاړې پورته رانشي دوه خطره متوجې دي قومندان الياس خبر شوی چې تاسو فرنګۍ نيولې په لاره کې کمين نيولی غواړې له تاسو يې په زور واخلې او بل دا چې د سرک غاړې ته د بهرنيانو موټرې د انجلۍ په لټون پسې راغلې کيدايشې لږ وروسته الوتکه هم راشي هملته حصار شي تر څو بهرنيان بيرته نه وي تللې تاسو مخکې مه راځې تاسين په بيړه احمد دوې ته وويل: زر کوئ راديخوا شئ بايد د هغې تيږې لاندې پټ شو ټول په بيړه لاړل د تيږې بيخ ته کيناستل احمد د انجلۍ خوله په دستمال وتړله ياسر ټوپک د سرک په طرف ونيو دوربين کې تر ډيره ګتل بيرته يې سر راوګرځو په خواشينې اواز يې وويل: کسان ډير دې که همدلته پاتې شو مرګ به په خپلو سترګو وينو احمد وويل: تللی هم نشو بايد د قومندان امر ومنو لس دقيقې وروسته دوه الوتکې په هوا کې تاويدلې ياسر بيا ټوپک راواخيست تر څه وخته يې وګتل په ويره يې وويل: پورته راروان دي تاسين بنکته وګتل کسانو پورته په چټکۍ مزل کوو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلو خولې پورته نیولې او ګوتې په ماشه ایښې وې تاسین مخابره راواخیسته د هغې لورې قومندان ځواب ورکړ تاسین وویل: قومندان صیب هغوې زمونږ په لور راروان دې څو دقیقې وروسته به راورسیږې له بره الوتکې پروازونه کوي څه وکړو؟ قومندان وویل: انجلۍ ووژنئ او تاسو ځانونه د غره په بله لار کلې ته ورسوې تاسین وویل: سمه ده مخابره قطع شوه یاسر انجلۍ ته په انګلیسې وویل: قومندان امر وکړ تر څو تا ووژنو او مونږ له پټې لارې ځانونه وباسو که له هغې لارې تا له ځان سره بیایو نو مونږ ته هم خطر پیښیږې انجلۍ خپلې سترګې د یاسر سترګو ته مخامخ کړې په سترګو کې د خپل ژوند خیرات غوښته یاسر په غوصه وویل: ما چې کله اشاره درته وکړه چپ لور ته به منډه کړې بیا دې دوې نشې نیولی د انجلۍ سترګې روښانه شوې د ژوند هیله ورته پیدا شوه په لومړۍ ځل یې خپل دوښمن ته په مینه ناک نظر وکتل تاسین وویل: راځئ یو څو کافر خو به وغځوو یاسر وویل: ته انجلۍ ته ګوره ما او احمد به پرې برید وکړو تاسین وویل: ته انجلۍ ته ګوره زه ورځم تر څو تاسین پاڅیده یاسرد تیرې له بیخه وتلی و احمد هم ورمنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه تاسين پاتې شو له مجبوريته کيناست انجلۍ ته يې
وګتل انجلۍ ډاريدله احمد او ياسر مخ ښکته ډزې
شروع کړي د سرک له خوا د ياسر دوې په لورې
مرمې راغلې تاسين توان ونه کړ منډه يې کړه د يوې
تيږې سره نږدې کيناست ياسر چې تاسين وليد انجلۍ
ته يې اشاره ورکړه انجلۍ منډه کړه ياسر تاسين ته غږ
کړ کار مو په خپل سر شروع کړ له دې ځايه اوس
وتل نا ممکن دي تاسين وروګتل په خندا يې ورغبرګه
کړه مونږ ټوپک له همدې لپاره راخيستی تر څو د
صليب ځامن له خپلې مقدسې خاورې وشړو که ووژل
شو شهيدان يو او که ژوندې پاتې شو غازيان يو ياسر
ورغږ کړ انجلۍ دې ځانته پريښوده تاسين څه ونه ويل
احمد ورغږ کړ هغه څه کليواله انجلۍ نده چې ونه
تښتې عسکره ده عسکره يو ډز پرې وکړه ژوندې بايد
لاړه نشي ياسر غږ کړ هغه تښتيدلې وګوره ځای يې
خالي دی تاسين په ورخطايي وروګتل څوک نه و ډزو
زور واخيست احمد غږ کړي بمبار کوي درې واړه په
خپلو ځايونو پريوتل الوتکې څو بمونه د چينې په غاړه
وغورځول د چينې سپينې اوبه خړې شوي تاسين د
خپلې غلطۍ له امله ځوريده له ځان سره به يې فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ قومندان ته به څه جواب وایم له تاسین یوه انجلۍ
وتښتیده او تاسین تش لاس بیرته قومندان ته راغلی بیا
به یې له ځان سره د شونډو لاندې دا کلمه تکرار کړه
نانانا تاسین له جنګه خالي لاس نه ځي ځکه له هغې
سره د مور دعا ده خپل پلار ته تش لاس نشې ودریده
تر څو ورته ووایې څوې یې له جنګه راغلی څه دې
وکړل هیڅ یواځې خپل ژوند مې وژغورو پلار به
ورته په غوصه ووایې جنګ ته خلک له دې لپاره نه
ځي تر څو بیرته راشي یا ځان وژني یا بل تیښته د
جنګ په یو قانون کې هم نده روا تاسین د ذهنې فشار
سره مخامخ و احمد غږ کړي شاته څو یاسر پاڅید
دواړو منډه کړه تاسین همغسې په خپل ځای ناست و
الوتکې دوه بمونه د یاسر دوې په لور وغورځول
دواړو پروت وکړ بیرته د بمونو په دوړو کې هماغسې
خپله لار وهله تر لرې لاړل د څو تیرو تر شاه پناه شو
د الوتکې ځمکنې ځواک ته پرلپسې همدا یوه خبره کیده
ترهګر له مونږه ورک شو نښان ویشتونکې دې هڅه
وکړي تر څو د هغوې ځایونه پیدا کړي ځمکنې ځواک
وویل: د لوی تیږې لخوا په مونږ پرلپسی ډزی کیږي
مونږ نه پریږدې تر څو سر پورته کړو الوتکو بیرته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی تیرۍ په لور راغلې څو بمونه يې وغورځول خو ډزی بندې نشوي لا هم مرمې د لوې تیرۍ لخوا د بهرنیانو پر لور جارې وي ځمکنې ځواک پرلپسی نارې وهلې له لوې تیرۍ سره کسان زيات دي دا راپور غلط و چې دري کسان دي څلورم کس دی چې له لوې تیرۍ له خوا په کیدونکو ډزو وژل کيږي دري ټپيان هم لرو هغه ځای چې زمونږ په لورې ترې ډزې کيږي بمبار کړئ الوتکې به بیا وزرې په چټکی تاو کړي او د لوې تیرۍ په لور به يې بمونه وغورځول قومندان ورخطا و عسکرو له ډاره څه نه ویل ټولو يواځې ډزې کولي قومندان په غوصه و له ځان سره بنګیده څرنګه جاسوسان دي وايې دري کسان دي دوه وتښتيدل يو کس دومره جنګ نشي کولی جاسوس خیانت وکړ مونږ يې په دام کې وغورځولو د دې پوښتنه به ترې کيږي غوصه يې نوره هم زياته شوه له خولې يې رد بد وتل ورته نږدې کس سر پورته کړ بیرته يې سر ښکته کړ په ځمکه ګډوډ ولويد له سترګې يې وينه روانه وه تر لږ وخته ژوندی و نور يې د ژوند سره خدای پاماني وکړه قومندان په رډو رډو سترګو ورګتل نور يې له وسه څه نه و پوره يواځې به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کس ته چې دوې ته يې خبر ورکړی و کنځل کول
د جګړي له سيمې لرې د ځو تيږو لاندې ياسر او احمد
دمه کوله احمد په خواشينې اواز وويل: تاسين هلته
پاتې شو هغه سر زوری دی فکر نه کوم تسليم شي
خپل ځان به ووژنې خو تسليمې به ورنه کړي ياسر
وروګتل د احمد سترګې سرې وې وويل: احمده تاسين
تکړه ځوان دی زما او ستا غوندی بيغرته ندی چې له
جګړي له ډګره وتښتې او خپل ملګری يواځې پريږدي
تر اوسه ژوندی دی احمد ياسر ته خپلې سترګې
مخامخ کړي وويل: ته څه پوهه شوي چې ژوندی دی؟
له دومره بمباره او ځمکنيو ډزو به هغه خاورې کړی
وي ياسر وويل: وګوره تر اوسه هلته جنګ دی
الوتکې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځای بمباروې بهرنیان هم ډزې کوي که یاسر
وژل شوی وی الوتکو به زمونږ پلټنه کوله خو هغوې
تر اوسه جنګ کوي احمد ته هیله پیدا شوه مخابره یې
راواخیسته تاسین باندې غږ وکړ له هغې لورې چا
جواب ورنکړ احمد د څو ځلې هڅې وروسته د هغې
لورې غږ واورید اورم احمده تاسو ښه یې؟ د احمد
سترګو کې ډنډ اوښکې اوس په خوشحالۍ بدلې شوې
وویل: هو ما او یاسر ښه یو زر تر زره جنګ پرېږده
او ښې لور ته راځه الوتکې مونږ کنټرولو تاسین
وخندل وویل: که زه تښتیدی له تاسو به مخکې تللی
وی کله چې بهرنیانو زما پلار وویشت او دواړه پښې
قطع شوې ماته یې وصیت وکړ وویل: تاسین له خر
څخه خر او له آس څخه آس زیږیدلی ته د قومندان
غیرت ځوی یې نه غواړم له قومندان غیرت څخه
بیغیرت پیدا شي که ته مخامخ جګړه کې ووژل شي
ستا کفن ته زه خوشحالیږم خو که له جګړې روغ
راتښتیدلی راستون شي نو زما زړه به له خپګانه
وچاودي ځویه له جګړې ونه تښتې غیرت ستا په لاس
کې دی او مرګ د الله تعالی ته خپل غیرت وکړه که
مړ شوې او که ژوندی پاتې شوې هغه بیا ستا کار ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د الله تعالی کار دی احمده ماته مه وایه چې راځه یا به زما د بدن د غوښو ټوټې له دې ځایه وړې او یا به د بهرنیانو موټرې له دې غره ښخه ځي نور مخابره قطع شوه احمد وویل: واقعاً د غیرتې پلار بیغیرته ځوې نه وي یاسر دوې تر ډیره تماشه کوله جګړه ورو ورو ختمیدله ډزی یو طرفه وي بهرنیانو به څو ډزې وکړي خو د لوې تیږي له خوا مرمۍ مخ ښکته نه تللې یاسر له لرې ګتل ورو یې وویل:اِناالله وانا الیه راجعون بهرنیانو هم زړه پیدا کړ څو کسان پاڅیدل د چینې په لور وروان شو ټول تیارسۍ و کومه پیښه ونشوه نور کسان هم پاڅیدل لږ وخت وروسته قومندان د لوې تیږي سره د تاسین جسد ته ولاړ و تاسین په وینو لمبیدلی و پښه ترې اخوا او لاس یې بل خوا پروت و سترګې پټ وي په خوله یې موسکا خوره وه ټولو په حیرانۍ ورګتل یو کس رامخکې شو وویل:

قومندان صیب دولس کسان وژل شوي او اوه ټپیان دي ټپیان او جسدونه مو په الوتکه کې انتقال کړل قومندان څیره خواشیني نیولې وه بیا یې خپلو ملګرو ته مخ راواړو وویل: له دې یې زده کړئ ځانته په ساده ټوپک یې په داسی حال کې زمونږ نولس کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويشتل چې مونږ دوه الوتکې او سل جنګيالې درلودل دا د امريکې لپاره شرم دی چې يو کس د هغوئ نولس کسان وژنې لږ لرې دوه کسانو خپلو منځو کې خبرې کولې يو وويل يو کس نولس کسان وژنې که چيرته د افغانستان هر وګړی همداسې وي نو دا سيمه زمونږ هديره ده له دې ځايه به يواځې زمونږ جسدونه ووځي يو جنګيالی په بيړه راغلی وويل: قومندان صيب ټريسي مو پيدا کړه زخمی ده له غره غورځيدلې ډاکټر ورسره دی اوس به دلته راشي د قومندان په تندي د خوشحالۍ اثرات ښکاره شو لږ وروسته ټريسي راغله تندی يې پټی شوی و لاسونه يې ولچک نه و پښه يې ګوډه ګوډه وړله قومندان وويل: ښه دی چې وژغورل شوي ټريسي په خواشينې اواز وويل: زه وژغورل شوم خو زما په بدل کې دولس کسانو خپل ژوند د لاسه ورکړ بيا يې تاسين ټوټې بدن ته وکتل وويل مايکل راته کيسه وکړه ما فکر نه کوو دا به دومره زړور جنګيالي وي چې ځانته په ځانې زمونږ دومره ملګري ووژنې نورو ملګرو يې دا ماته پريښود تر څو زه ونه تښتم خو له دې سره بل فکر و ما به ژوندی بوځي زه يې يواځې پريښودم او د جنګ شروع کړ ساده راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره شو په درې کسانو د دومره لوی ځواک سره جګړه زمری هم ورته زړه نه ښه کوي قومندان يې ورته وويل: تر څو ما ووژنې او هغوي وتښتې نور ملګرې لاړل خو دا پاتی شو کله چې زه تښتيدلم بمبار شروع شو ما غوښتل پروت وکړم خو ولويدم بيا په ځان نه يم پوهه شوي کله چې په هوش راغلم زمونږ ملګري راته ولاړ و قومندان وويل: هغه کيسه به بيا وروسته راته وکړي اوس بايد له دې ځايه لاړ شو تاسين يې هملته پريښودو خو د هغې د قهرمانۍ کيسه هر جنګيالي له ځان سره په يادو وساتله

+--+***********+--+

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس کسان په کوټه کې ناست و وسلې ورته نږدې پرتې وې د هر یو کس مخې ته د شنو چایو ډکې پیالې او په کوچنیو کاسو کې ګوړه پرته وه د کوټې بر کونج کې ناست کس چې خیټه یې د خپلې اندازې زیاته راوتلې وه تور واسکټ او تورې جامې اغوستې وې خبرې کولې هغه د یاسر خبره همغسې ګونګه او پټه پاتې شوه هیڅ معلومات یې ونشو چې دا څوک دی؟ هره ورځ د یاسر له امله یوه جالبه پیښه کیږي زه یقین لرم دا بهرنی جاسوس دی د کوټې د کوز سر څخه یو ځوان وویل: بیا یې څه کړي چې ستا وینې ورته په جوش راغلې سړې بیرته خپلې خبرې پیل کړي هغه د تاسین کیسه ښایم د دې د تیښتې له امله هغه شهید شو یو ځوان خبره ونیوله وویل: یاره فهیمه دا غیبت مو سخت خوښیږي هغه کیسه خو احمد وکړه تاسین په خپل سر جګړې ته وردانګلې تاسین غیرتی ځوان و دې کې د یاسر هیڅ غلطې نشته کوټه کې ګډوډې جوړه شوه بل کس وویل: د یاسر ستاینه مه کوه ځانته د تاسین کیسه نده مونږ د ډیرو پیښنو شاهدان یو ته وایه زمونږ په ګوند کې هیڅوک په انګلیسې نه پوهیږي خو دا روانه انګلیسې وایی اخلاق تعلیم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست هره برخه کې له مونږ وړې ده داسې څوک به
نه وي چې دا یې نه پیژني په حکومت کې هم ډیر
ملګرې لري د کافرو منځ کې هم کسان پیژني ما څو
ځل ولیدو چې په انګلیسي ژبه له چا سره غږیده دا
عادې کس ندی خامخا جاسوس دی زمونږ ډیر اسناد
ورک شو د هغې اسنادو د ځای معلومات یواځې
قومندان صیب حمید او یاسر ته و خو چا ترې پوښتنه
ونه کړه که دا جاسوس نه وی نو اوس به د وخته وژل
شوی او یا نیول شوی وی د کوټې له بر سره یو په
عمر پوخ سړي وویل: تاسو ټول غلې شئ زه به درته
خبره وکړم کوټه کې خاموشې خپره شوه په عمر پوخ
سړې له پیالې یو غړپ چای وڅکه بیا یې تشې پیالې
ته وکتل د کوټې له کوز سره یو کس بل ته وویل تواب
ته چای واچوه د تواب پیاله ډکه شوه ټولو یې خولې ته
وچې سترګې نیولې وي تواب وویل: یاسر ښه ځوان
دی ما یې تر اوسه له چا سره بد ندې لیدلې تر خپلې
وسی زیات یې له ما نیولې تر عادې کلیوال پورې ان
دهقان سره یې هم مرسته کړې که چا پیسو ته
ضرورت شوی یاسر ته دریدلې تر اوسه یې چاته ندې
ویلې چې نشته که د چا کار پیدا شوی لومړې مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاسر کړي که په کوم کور کې ناروغ پیدا شوی لومړې پوښتنه او مرسته یاسر ورسره کړي زمونږ خبره د یاسر په اخلاقو نده خو که شخصی ژوند ته یې وګورو بیا بدل دی ما تر اوسه یاسر د خپلې کورنۍ سره په خبرو ندی لیدلی یو ځل مې پنځه ویشت کلن ځوان ورسره ولید ځوان عصری و د ښار ښکاریده جوړ پخیر مو سره وکړل یاسر ځوان د کاکا ځوی معرفی کړ ویل یې ښار کې ډاکټر دی ما نور د یاسر خپلوان ندې لیدلې بل داسی سیمه نشته چې یاسر ورسره اشنایی ونه لري هره سیمه او هر کس پیژنې د احمد ضیاء خبره د کفارو منځ کې هم ملګرې لري د هر چا سره ښې اړیکې لري دا په ښکاره ډول د جاسوسۍ نښه ده خو زه ورته جاسوس نه وایم ځکه د یاسر په خیر تکړه ښان ویشتونکې له مونږ. سره نشته په هر جنګ کې له مونږه لومړې هغه ډز کړی داسی جنګ نشته چې یاسر ورکې یو کافر نه وي غځولې بیا یې چپ طرف ته مخ واړو ورسره څنګ کې ناست کس ته یې وویل: عمره په یاد دې شي د تورې غونډۍ جنګ عمر وویل: هو هغه به مې څنګه هیریږې ټول کسان چې کلابند شو دوه لارې وي یا تسلیمې او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګ تواب وويل: که هغلته ياسر ميړانه نه وی کړی
نو اوس به په مونږ هم ډيری خاورې پرتې وی هغه
خپل ژوند په خطر کې واچوو ځان يې راورسوو او
مونږ يې وژغورلو هغه ورځ مې ښه ياد دي هيڅا
زمونږ مخابرې ته جواب نه راکوو ډيرې نارې مو
ووهلی چې مرسته راوليږئ خو هيڅا له مونږ سره
همکارې ته زړه ښه نه کړ ځکه زمونږ سره همکارې
مرګ و همدا ياسر و چې پرته له اجازې يې ځان
راورسوو او مونږ يې وژغورلو که امريکايانو غلام
وی نو هغه ورځ به يې شل کسان د ګونتنامو او بګرام
له زندانونو نه ازادول او بل د حکومت هر جاسوس د
امريکايانو سره مخامخ ډغره نه وهې خو دا يواځې له
امريکايانو سره جنګيږي ما تر اوسه د ملې اوردو سره
جنګ کې دا ندی ليدلې زما په دې کار زيات خوښيږي
لاسونه يې د افغانانو په وينو ندې سره کړي يو وخت
مې ترې وپوښتل چې ولې د حکومت خلاف جګړه نه
کوي لنډ يی پوهه کړم وويل: کله چې حکومت وويل:
مونږ مسلمانان نه يو بيا پرې تر ټولو مخکی زه بريد
کوم دا خبره غيرې منطقی ده هغوې وايی مونږ
مسلمانان يو او مونږ ورته وايو نا تاسو کافر ياست

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږيره يې تل پاکه خريلې وي ښه جواب وايې دين په ږيره کې ندی بلکې ږيره په دين کې ده ډيرو کسانو ږيره پريښوده او هره ناروا يې وکړه چا ورته هيڅ هم ونه ويل ځکه ږيره يې وه دغو کسانو د خپلو شخصی ګټو لپاره د اسلام دين بدنام کړ زه نه غواړم د ږيرې سره داسی کار وکړم چې دين پرې بدنام شي د کفر او فسق کارونه مونږ کوو او د بدنامۍ داغ په اسلام لګيږي لکه مثلاً غلا، قتل، زنا، نشې، رشوت، تور، بهتان، حسد او داسې نور زيات ګناهونه مونږ کوو خو کافر وايې دا کارونه مسلمانان کوي په داسی حال کې چې دا ټول اسلام حرام کړي ياسر راته په دې باره کې ډيرې خبرى وکړى لنډه دا چې دينې معلومات يې له مونږه ډير دي ما څو ځل قومندان حميد ته وويل: چې ياسر ماته جاسوس ښکارې خو هغه هر ځل همدا خبره راته کړي توابه دا ستا کار ندی په دې برخه کې ګوتې مه وهه که هر څه وي تاسو پورې اړه نه لري نو له خپل کار سره کار لرئ بيا مې ورته ونه ويل ځکه قومندان حميد د ياسر سره جوړ دی د ياسر خلاف يوه خبره هم نه اورې د خپل پلار سپکه زغمې خو د ياسر سپکه نه زغمې دا خبره جنجالې ده ګوتې ورکې مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهئ تاوان به وکړئ یاسر مونږ ته ګټه رارسولې
تاوان مې ترې ندی لیدلی ځان به په ګناه کې نه اخته
کوو کیدایشې هغه جاسوس نه وي مونږ پرې تور
وتړو او که جاسوس و دا به وخت په تیریدو معلومه
شي طاهر وویل: توابه ښې خبرې دې وکړې په دې
برخه کې به جنجالونه نه کوو خو دا زمونږ مسؤلیت
دی تر څو هغه کسان چې له مونږ سره خیانت کوي له
خپلې ډلې لرې کړو باید یوه لار راوباسو تر څو یاسر
معلومات پرې وشي تواب وویل: مونږ دلته څو کسان
ناست یو طاهر کسان وشمیرل وویل: لس توابه تر لږه
وخته فکر وکړو بیا یې وویل: یوه لاره شته ټول تواب
ته ځیر شو تواب خبره اوږده کړه وویل: باید یاسر
وڅارو مونږ لس کسان یو نور باید څوک خبر نشې او
دا خبرې بل چاته ونه کړئ یو کس به اوه ورځې یعنې
له شنبې ورځې شروع تر بلې شنبې ورځې پورې
یاسر څارې معلومات به له ځان سره ساتې او د جمعې
په ورځ به یې مونږ ته وایې خو یاسر باید پرې پوهه
نشي چې مونږ هغه څارو ټولو سرونه وخوځول لمبر
وټاکل شو لومړئ طاهر وټاکل شو تر ډیره وخته ټول
ناست و بیا ورو ورو دوه دوه کسان وتل لږ وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجره خالي پرته وه.

+--+ +--+************

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاسين د مرګ پنځلسمه ورځ وه خو د انجلۍ څه درک ونه لګيد ياسر د غره په څنډه کې د تيږې د پاسه اوږد غځيدلې وله ځان سره يې په ورو وويل: زه يې وغولولم بايد هملته مې ويشتلی وی نه پيسې لاسته راغلې نه وسله او نه يې هم موبايل او کمپيوټر راوليږل زړه کې څه تير شو پاڅيد جيب ته يې لاس کړموبايل يې راواخيست شميره يې ډايله کړه د هغې لورې په انګليسې ژبه جواب ورکول شو سلام څنګه يې؟ ياسر وويل: ښه يم مننه بيا لږ خاموشه و هغه کس غږيد ولې دې زنګ وهلی؟ د ياسر تندې تريو شو په غوصه يې وويل: نه دې موبايل راوليږه او نه هم کمپيوټر کار سخت شوی بايد زر تر زره يې ماته راورسوې که نه هر څه به مو د لاسه ووځې ځاې مې پيدا کړی خبره يواځې کمپيوټر ته ماتله ده د هغې لورې په نرمه ژبه خبرې کيدې وويل: په غوصه کيږه مه دا د غوصې کار ندی پوهيږم ډيره اړتيا ورته لرې ما تاته مخکې هم څو ځل وويل لاره سخته ده تا چې څه غوښتې هغه ټول کابل ته رارسيدلې مشکل دا دی لاره سخته شوې دا شيان تر تا نشو درسولی پنځوس ځايه تالاشې اخيستل کيږي که دا شيان له مونږ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیول شو نو نه زما خیر شته نه ستا او نه مو د نورو ملګرو د یاسر غوصه نوره هم زیاته شوه وویل: که خطر ونه منې هیڅه نشې ترلاسه کولې زه اوس هم د څار لاندې یم که کوچنۍ غلطې وکړم ژوندی به مې په ځمکه کې خښ کړي اوس دا ووایه څه وخت به یې تر ما راورسوي مقابل لورې وخندل خبره یې پیل کړه وویل: ما خو تاته وویل دا د غوصې کار ندی نرم زړه غواړې کله چې لارې اسانه شوي تر تا به یې دورسوو او ماته زیات زنګونه مه وهه داسې نه مشکل جوړ شي یاسر څه ویل خو تلیفون بند شو ماښام وخت و یاسر د انجلۍ اخیستې موبایل راواخیست چلان یې کړ د شپې لس بجې موبایل وټنګید یاسر موبایل راواخیست د باندې ووت تر لرې لاړی موبایل بند شو لږ وروسته بیا زنګ راغلې یاسر د اوکی بټن ووهله د هغې لورې انجلۍ په انګلیسې خبرې کولې وویل: سلام څنګه یې؟ یاسر وویل: مننه ښه یم

ـ لمبر خو به مې نه وي غلط کړی

ـ نا سم ځای ته دې زنګ وهلې خو که څو ورځې وروسته دې زنګ وهلې وی بیا مې درسره خبره ورانه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ولې په غوصه يې؟

ـ په غوصه به نه يم لاړې ورکه شوي ما فکر وکړ خيانت دې وکړ هغه شيان دې راونه ليږل څه وخت يې راليږې؟

ـ ستا څه وخت په کار دي؟

ـ سبا!

ـ چيرته يې درو ليږم؟

ـ د ښار کوز سر کې يو دوکان دی لويه سودا خرڅوي هلته يې ورکړه ورته ووايه طاهر ته يې ورکړه نور به زه طاهر ته ووايم چې چيرته يې راوړې خو پام چې دوکه ونه کړي په دې برخه کې هغوې له ماسره هيڅ لاس نه لري يعنې هغوې بيګناه دي خو ما پيژنې له دې مخکې يې هم شيان راوړې بل شيان په شخصی جامو کې ورکړه داسې نه تا ته يا ماته مشکل جوړ شي

ـ سمه ده تا چې څه وويل همداسې به وکړم يوه پوښتنه وکړم؟

ـ هو وکړه

ـ ته ولې په ما دومره باور لري ماته داسې خبرې کوي لکه نږدې ملګرې ته چې غږيږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاسر وخندل وویل: زه پوهیږم ته دا شیان رالیږې که دې دوکه کوله زنګ دې نه وهو اوس چې له ماسره خبرې کوې دا ښکاره د دې شاهدې ورکوي چې ته دا کار ترسره کوې بل زه ستا له ځیرې پوهیږم ته معصومه یې هیڅکله دې خیانت ندی ترسره کړی

ـ مننه دا چې ته په ما دومره باور لري زه به هیڅکله ستا باور مات نه کړم تل به له تاسره مرسته وکړم زه په لومړې ځل له داسې چا سره مخامخه شوي یم چې په ما دومره باور لري که دا پوښتنه مې هم جواب کړې زیاته به خوشحاله شم

ـ کومه پوښتنه ده چې جوابول یې ستا د خوشحالۍ لامل ګرځې؟

ـ پوښتنه مې دا وه دا کمپیوټر، موبایل دا خو ډیر ارزانه شیان دي ته په دې شیانو څه کوې دا ولې تاته دومره مهم دي چې تا یې د لاسته راوړلو لپاره زه له مرګه خلاصه کړم او خوشې دې کړم؟

ـ ښښه غواړم دا پوښتنه دې نشم جوابولې یو وخت به یې درته ووایم چې دا ولې دومره مهم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خاا سمه ده راځه معرفت به وکړو کیدایشې بیا هم مخامخ شو زما نوم ټریسي د امریکا نیویارک ښار اوسیدونکې یم پنځه ویشت کلنه یم په اولس کلنۍ کې له ښوونځې او په یویشت کلنۍ کې د حقوقو له پوهنځې فارغه شوي یم له همغه وخته د امریکې په پوځ کې یم.

یاسر له ځان سره فکر وکړ ښه موقع ده دا غواړې له ما سره ملګرې شې ډیره ګټه راته رسولی شي وویل:

زما نوم یاسر دی د ننګرهار اوسیدونکی یم پنځه ویشته کاله عمر لرم اتلس کلنۍ کې له ښوونځې فارغه یم پوهنتون مې ندی لوستې له یو کال زیات وخت کیږي د طالبانو سره یم.

ـ د ننګرهار د کومې سیمې یې؟

ـ هسکې مینې

ـ له کوم ښوونځې فارغه یې؟

ـ ولې؟ ته خو داسې پوښتنې کوي لکه زه چې ستا بندې یم

ـ نانا یواځې غوښتل مې ستا په اړه ډیره پوهه شم یوه پوښتنه کولی شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ وکړه

ـ په طالبانو کې زور لري یعني خبره دې ځای نیسي

ـ هو قومندان مې ملګرى دى له خبرې مې نه تیرېږي
ته څنګه؟

ـ د ځان ستاینه درته نه کوم زمونږ د بینس قومندان
زما د کاکا ځوى دى د هغې وروسته زما خبره د کاڼې
کرښه ده یاسر له ځان سره په خوشحالۍ وویل واه واه
د سرو زرو چرګ مې لاس ته راغلى باید دا په هیڅ
شان خپه نه کړم او د خپل تاثیر لاندې راولم ټریسي
وویل: ورک شوي لکه چې حیران شوي؟

ـ نا ولې به حیرانیږم

ـ بخیلې دي راغله زه پوهیږم زما دندې تا ته زور
درکړ

ـ دا ستا وهم دى زه څه تاسره په یوه ډله کې نه یم چې
ماته ستا رتبه زور راکړي ته ستا د تره ځوي او د
امریکایانو عادې کارمند ټول ماته یو شان دي ځکه پر
تا، قومندان او کارمند خلاف دې زه یوه وسله کاروم

ـ ټوکې مې وکړي ته لکه چې خپه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نا زه ستا په بريا هيڅ نه خپه کيږم ستا بريا زما بريا ده

ـ واو ډېر ښه زما له تا همدا هيله وه زه پوهيدم چې ته زما سره دښمني نه لري تاته يواځې خپلې ګټې مهمې دي نه د طالب کيسه کې يې او نه د امريکا که هر يو يې ګټې ته خپله ګټه ورکي غواړي

ـ په ځای خبره دې وکړه زما همدا مطلب دی ماته دا نده مهمه چې څوک يې ګټې ماته مهمه دا ده که هر څوک يې ګټې بايد زما حق راکړي

ـ راځه يو کار به وکړو زمونږ استخباراتو کې به ستا نوم وليکم که زمونږ کسان دې ونيسې مشکل به درته نه وي زر به خلاص شي معاش به هم اخلې په طالبانو کې به هم مهم ځای ترلاسه کړي که دې خوښه وي خپل اسناد دې راوليږه نور کار دې پر ما؟

ـ سمه ده زه به فکر وکړم اوس ناوخته دی بيا به غږيږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سمه ده موبایلونه قطع شو څلور اونۍ ووتلې خو د یاسر معلومات ونشول د لومړۍ اونۍ کیسه داسې وه یاسر د شپې تر ډیره له چا سره غږیده په سبا یولس بجې طاهر ډریور څه شیان په کاټنو کې بند راوړل او یاسر ته یې وسپارل هغه کاټنې تر خپلې کوټې ورسولې ډریور طاهر وویل: دا شیان ورته ښار کې دوکاندار ورکړي بیا د دوکاندار خبره داسې وه دوه ځوانانو چې ږیره یې پر مخ نه وه له باډۍ هم برابر و سپینې څیرې درلودې دا شیان ورته ورکړل تر څو طاهر ته یې وسپارې دا اونۍ تیره شوه د ټولو شک نور هم زیات شو دا څه شې دي؟ چا راولیږل؟ یاسر په دې څه کوې؟ او داسې نورې پوښتنې د هر کس ذهن کې ګرځیدې څو ځل طاهر هڅه وکړه تر څو دا شیان وګورې خو ونه توانیده تواب هم غلې نه و ناست د یاسر یې د کاټنو په اړه وپوښتل هغه لنډ ځواب ورکړ ډیر زر به خبر شي د تواب پوښتنه بی جوابه پاتې شوه په دویمه اونۍ یاسر قومندان حمید ته مهم خبر راوړ هغه ټولو ته د تیارسۍ امر وکړ نیم ساعت وروسته ټول د سرک شاوخوا ناست و پنځلس دقیقې ووتې د امریکایانو څو موټرې راغلې د برید کولو امر ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو لس دقيقې وروسته دوه موټرې وتښتيدې څلور تنه مړې تر شا پرېښودل ډير مال ترې غنيمت پاتې شو خبره معلومه شوه خبر ياسر راوړې شک بيرته ختم شو که ياسر جاسوس وی نو امريکايان به يې دام کې نه اچول په دريمه اونۍ کاټنې خلاصي شوي ټول کسان راټول شو ياسر کمپيوټر چلان کړ ټولو ورته وازې خولې نيولې وي د کمپيوټر په پرده يا سکرين امريکايان ښکاره کيدل هغوي تمرينات کول ياسر نيم ساعت د امريکايانو د تمرين په هکله وغږيد په خبرو کې به يې که تاسو د هغوې په څير تمرينات وکړئ نو ډير زر مو بريا په برخه ده خبره ډيره کوله د خبرو مطلب يې اخر کې يو و بهرنيان د افغانستان په جغرافيه کې نابلده دي دلته هوا ګرمه ده د غرونو پيچلې او سختې لارې په اسانه نشي وهلی که تاسو د ورځې نيم ساعت تمرينات وکړئ د هغوې د لس ساعتونو د تمرين سره برابر دی ستاسو او د هغوي تمرين داسې دی لکه د اول ټولګې او دولسم ټولګې زده کوونکې د اول صنف شاګرد د هرې خبرې سره نابلده دی که لس ساعته درس ووايی لس مخه به زده کړي خو د دولسم ټولګې زده کوونکې په يو ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لس مخه درس زده کوي ځکه د زیاتو خبرو سره
بلد دي د تواب دوې شک بیخې ختم شو خو طاهر او
دوه نور کسان فرهاد او یوسف لاهم په خپله خبره
ولاړ و باید وڅارل شي د څلورمې اونۍ راپور ټول
هک پک کړل فرهاد ادعا کوله چې یاسر یې لیدلې د
امریکایانو موټر ته وختلو او د بینس په طرف لاړ
طاهر خوشحاله و تواب او نورو کسانو سرونه ښکته
نیولې او ځانونه یې ملامتول ولې یې دومره زر باور
وکړ خبره هغه وخت اخرې مرحلې ته لاړه چې د
پنځمې اونۍ په دریمه ورځ د یوسف په لمبر کې د
یوسف مړې وموندل شو طاهر قسم یاد کړ چې د
یاسره به د یوسف غچ اخلې ټول حیران ناست و طاهر
وویل د یکشنبې په ورځ راته یوسف وویل چې یاسر
باندې شک په یقین بدلیږې ومې پوښتل څنګه؟ یوسف
ویل چې یاسر یې بیګاه ناوخته وڅاره پوره یونیم
ساعت یې په موبایل خبرې کولې د خبرو یې معلومیده
چې انجلۍ سره لګیا دی وروسته یې بل چاته زنګ
ووهه ورته وویل سبا لس بجې به کلې کې سره وګورو
اسناد ټول راوړه باید دا کار زر تر زره خلاص کړو
زه هم د یاسر تګ ته په تمه یم لس دقیقې مو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي یاسر روان و دا هم ورپسې ورغلی نیم ساعت
وروسته یې د مرګ خبر خپور شو د طاهر د خبرې
وروسته ټول په یوه خوله و یاسر باید تعقیب شي د د
سره خامخا شیطان شته یوه اونۍ وروسته قومندان
حمید ټول کسان راټول کړل وویل خبره نه اوږدوم د
یوسف د مرګ په اړه غږیږم زمونږ ځینې مهم اسناد و
باید تر مشرانو لیږل شوی وی ما یاسر انتخاب کړ په
کمپیوټر ښه پوهیږي ځو باورې کسان مې هم ورسره
کړل کله چې یاسر د اسنادو د لیږلو لپاره اړوند ځای
ته روان شو کسانو خبر راکړ چې ځوک یې څارې
هغه کس د یاسر شاه نه پریښوده یاسر ته مې امر وکړ
چې لاره بدله کړې کس هم لاره بدله کړه مجبور شو
بله چاره نه وه وسله یې درلوده امر مې ورکړ کس مو
وویشت یاسر دوې نږدې ورغلل کس پړمخې پروت و
په ډډه مو راواړو یوسف و کار شوی و دا به یې
برخلیک و په یوسف د جاسوسۍ شک نشم کولی خو دا
چې ولې یې یاسر څاره پوهه نشوم په یاسر بیا یقین په
شک بدل شو یوسف قومندان حمید لخوا وژل شوی و
د پنجشنبې ورځ وه د یاسر موبایل ته زنګ راغلې
پاڅید د ملګرو له منځه ښه لرې شو جواب یې ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټريسي وه ياسر يې بينس ته غوښته ياسر وويل: سمه ده زه سبا درځم ټريسي وويل: نا همدا اوس راشه شپه به له مونږ سره تيره کړي سر اعلی قومندان راځي معرفت به دې ورسره وکړم ګټه درته کوي ياسر له ځان سره فکر وکړ تګ يې په خير و قومندان حميد ته يې خبر ورکړ چې ښار ته ځي ماښام ناوخته د بينس په دروازه ورننوت دروازه کې په اسانه ننوت ټريسي پيره دار ته د ياسر نوم ورکړی و د ياسر زړه کې ډار نه و مخکې هم راغلی و د ټريسي د تره ځوي سره يې معرفت وکړ دا ځل راتګ بدل و پوځيان تيارسۍ ولاړ و د ټريسي خبره رښتيا وه د يو پوځي يې وپوښتل جواب يې لنډ و سراعلی قومندان راځي ياسر د ټريسي خواته ورغلی هغه د شربت ګيلاس ډک کړ ياسر څو غړپه ترې وکړل ډوډۍ تياره وه له ټريسي او د هغه تره ځوی هيليس سره يې يوځای وخوړه هيليس ټوکمار سړی و پلار يې ډاکټر و ترافيکې پيښه کې د خپلې ميرمنې سره يوځای وژل شوی و هيليس هغه وخت اتلس کلن و پوځ ته لاړ لږ وخت کې زياته پيژندګلوي وشوه درې ځل يې د جورج بوش سره وکتل هغه ورته د کانينګ پيروټ يعنې مکار طوطې لقب ورکړ کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې امریکایان افغانستان ته راتلل دا هم راغلی د خپلې
خولې یې ګټه پورته کړه د بینس قومندان شو سراعلی
قومندان به ورته اوس هم د کانینګ پیروټ په نوم غږ
کاوه د شپې ناوخته سراعلی قومندان راغلی ټول کسان
په قطار ولاړ و د هیلیس وروسته ټریسي او یاسر د
قومندان د استقبال لپاره مؤظف شوي و قومندان د
هیلیس سره تر ډیره وغږید هیلیس سره د خبرو
وروسته ټریسي ته ودرید د جوړ پخیر وروسته یې
ورته وویل: ټریسي ستا هغه ملګری راغلی ټریسي
موسکه شوه یاسر ته یې وګتل وویل: هو دا دی
قومندان یاسر ته لاس ورکړ وویل قانون دا دی چې
باید ما ته پوځې ادب پر ځای شي خو ته افغان یې
پوهیږم چاته سر نه ټیټوي له همدې امله په لاس مې
درسره روغبړ وکړ یاسر څه ونه ویل یواځې سر یې
وخوځو قومندان ټریسي ته وګتل وویل: خپل ملګری نه
معرفي کوي ټریسي وویل: ولې نه یاسر دی د قومندان
حمید د نږدې کسانو څخه شمیرل کیږي هغه وخت چې
زه ونیول شوم همدې وژغورلم کله چې زمونږ د
موټرو په کاروان برید وشو دې مونږ ته خبر راکړ
زمونږ وژل شوي کسان هم د تر مونږه راورسول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اسناد چې باید نه وی رسوا شوی د خیانت وکړ او مونږ ته یې راورسول تا یې په پیدا کولو انعام هم ایښی و قومندان وویل: په یاد مې دی له ځان سره مې راوړی هغه د یاسر سره ډیرې خبرې وکړې په اخر کې وویل: ښه رتبه او ډیرې پیسی درکوم که زما کار وکړې؟ یاسر وروکتل وویل څه باید وکړم؟ قومندان موسک شو وویل: سخته ده خو که قومندان حمید مونږ ته وسپارې نو د امریکا دولت به ستا احسانمند وي یاسر تر ډیره خندل ټریسي وویل: یاسره لیونۍ خو نشوي؟ یاسر وویل: نا روغ یم ستاسو غوښتنه لیونۍ ده که قومندان حمید تاسو ته وسپارم نو زما جسد به ومومۍ هغه دومره کمعقل ندی چې زه یې تاسو ته تسلیم کړم قومندان ناهیلی شو یاسر سهار وختې د قومندان سره یوځای ښار ته لاړ او د ملګرې سره یې ولیدل مازیګر خپل مرکز ته راغلی د ماښام لمونځونه په قضا کیدو و موبایل یې راواخیست شمیره یې ډایله کړه زنګ تیر شو د هغې لورې په انګلیسې ژبه ځواب ورکول شو سلام څنګه یې؟

ـ ښه یم ته څنګه یې؟

ـ مننه زه هم ښه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ستا کارونه ګنګس دي هیڅ کار په سمه توګه نشي کولی کمپیوټر او نور شیان دې راونه لیږل هسې یې انتخاب کړی یې ته لا افتخار هم کوي د شیانو د رسولو مسؤول زه یم

ـ ستا شیان په کار و ترلاسه دې کړل نور ته څه غواړي؟

ـ شیان ما په خپله ترلاسه کړل تا خپل مسؤولیت په سمه توګه اجرا نه کړ ما قومندان صیب ته ستا څخه شکایت کړی چې مهم وسایل په وخت نه رارسوي که ما دا شیان نه وی ترلاسه کړی خپل راپور مې نشو استولی او د دې مسؤول ته وې

ـ ته هم نه خبرې راسپړي راپور خو دې ولیږه د امریکایې انجلۍ سره دې اړیکې ښې دي هر څه درکوي زما کارونه بیخې ډیر دي هر یو کس ته نشم رسیدلی

ـ هههههه له دندې دې استعفا ورکړه

ـ ولې استعفا ورکړم زما کارونه سخت ندي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نا هيڅ سخت ندې ما ته فکر وکړه د طالبانو سره يم امريکې ته هم جاسوسي کوم د حکومت سره هم اړيکې لرم او تاسو سره مې اړيکې ډيري ښې دي دا هر څه ستاسو لپاره او ته وايې زما کارونه زيات دي که بل ځل دې زما غوښتنه ونه منله ډير زر به دې دنده له لاسه ورکړي

ـ ياسره ياسره مقابل لورې ډيرې چغې ووهلي خو ياسر موبايل بند کړی و په سبا ټريسي زنګ ووهو وويل: ياسره د قومندان صيب سره صحيح ونه غږيدي تا د هغه په غوښتنې وخندل وروسته يې ماته وويل: که ياسر قومندان حميد مونږ ته وسپارې د بينس قومندانې او نور امتيازات هم ورکوم ياسر وويل: زه د قومندان حميد د دومره مرستو بدله کې هغه ته د ګوانتنامو زندان نه ډالۍ کوم او له بلې خبرې دې هم خبره کړم ټريسې په حيرانۍ وپوښتل له کومې خبري؟

ـ زه به ډير زر دلته خپل کار سرته ورسوم نور له دې ځای څخه ځم

ـ چيرته ځې بل ولايت ته؟

ـ بل ولايت ته نه زما کار دلته بشپړ کيدونکی دی ډير زر به خبره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ستا څه کار دلته بشپړېږي چې ته دومره خوشحاله يې؟

ـ ما درته وويل زه نور له دې ځای څخه ځم يواځې خبر مې درکوو

ـ مه ځه زه به خپله رتبه تاته درکړم هر څه چې غواړي زه به يې تاته درکړم خو ما يواځې مه پرېږده د ټريسي خبرې ورو ورو په سلګيو بدلېدې هغه زر زر غږېده لږ وروسته يې اواز په سلګيو کې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټريسي ټريسي په تا څه وشو؟ ټريسي ولې ژاړې؟ له ما خپه شوي؟ ياسر له ټريسي پوښتنې کولې خو په موبايل کې يواځې د سګيو غږونه راتلل لږ. وروسته موبايل بند شو ياسر موبايل ته حيران وکتل له ځان سره يې ورو وويل په ټريسي څه وشو آيا ما بده خبره وکړه بيا يې څه ذهن کې راوګرځيدل موسک شو له ځان سره يې وويل هغه له ماسره مينه لري!! دا ټولې نښې د مينې دي بدرنګه نده سپين ګرد مخ لکه د کابل منه زړه راښکوونکې قهوې سترګې طلايې ويښتان اوفف څه کافره ښکلا لري زه هم ورسره مينه لرم!! بيرته يې سر داسې لکه ليونۍ چې په هوش راشي وخوځو څو کاله پخوانۍ خبره يې ذهن کې ورتيره شوه هغه وخت چې د ا په يوه انجلۍ مين شو انجلۍ ښکلې وه د چنار په څير جګ قد د ناک په څير اوږد مخ تورې غټې سترګې سرې شونډې جګه پوځه او تور ويښتان يې زړه راښکوونکې و قومندان يې له څيرې پوهه شو پارک ته يې بوتلو له نږدې هوټله يې خوراک راوغوښت ګارسون خوراک راوړ پارک ښکلې جوړ شوی و د پارک منځ ټول شين و د چمن شاوخوا د غاټول ګلان و د پارک منځ کې سيمټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکۍ پرتې وي آسمان شين و ځای ځای وريځې ښکاريدي  ياسر قومندان ته وګتل قومندان لاس اوږد کړ د کاسې څه خولې ته واچول ياسر وپوښتل قومندان صيب څنګه دې دلته راوستم؟

قومندان جيب ته لاس کړ کاغذ او قلم يې راوخيستل ياسر ته يې ونيول ياسر په خوارو سترګو وروګتل قومندان وويل: واخله!!

ياسر قلم ته وګتل قيمتې و لاس يې وراوږد کړ قلم او کاغذ يې واخيستل وويل: څه پرې وکړم؟ قومندان جواب لنډ خو حيرانونکې و وويل: استعفا!!!

ياسر وروګتل قومندان جدې و ياسر وپوښتل ولې څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان وویل: مینه او جاسوسي نه کیږي دوه لارې لري یا استعفا ولیکه او یا دې معشوقې ته خط ولیږه چې نور له تاسره نه ګورم ځکه مینه او جاسوسي نه کیږي یاسر وخندل وویل: دا هسې خبره ده چې مینه او جاسوسي نه کیږي ته ګوره زه یې څنګه کوم قومندان وروګتل په غوصه یې وویل: مینه قربانۍ غواړي او جاسوسي د قربانۍ شی ندی کیدایشې زمونږ کوم راز وواېې دا د ټولو لپاره خطر دی یاسر وروګتل سترګو کې د قومندانه کرکه پیدا شوه وویل: هغه باورې انجلۍ ده هیڅکله له ما سره خیانت نه کوي قومندان په خندنۍ لهجه وویل: جاسوسې د باور کار ندی په یاد راوله پلار دې څه وکړل د مور له امله دي د خپل پلار برخلیک ته دې فکر وکړه تا ورسره څه وکړل د ډیرې لانجې وروسته یاسر د جاسوسۍ لپاره د خپلې مینې تیر شو ورو یې له ځان سره وویل: قومندان صحیح خبره کړي وه مینه قربانې غواړي او جاسوسې د قربانۍ څیز ندی ټریسي ډیره قربانې ورکړه باید پښیمانه نشي زما خیانت ما نه افغانان خاین معرفي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ټریسي موبایل بند کړ په ژړا پړمخې
چپرکټ کې پریوته تر ډیره یې سلګې وهلې دروازه
ټک ټک شوه ټریسي جواب ورنکړ د دوهم ځل ټک
ټک سره ټریسي پوهه شوه چې څوک دروازه ټکوي
سترګې یې وچې کړي شاته یې وکتل قومندان هیلیس
ولاړ و هیلیس مخکې راغلی د ټریسي سره نږدې
چپرکټ کې کیناست تر ډیره دواړو سرونه ښکته
نیولې و هیلیس په ورو اواز وویل: ما ستا خبرې
واوریدي پوهیږم ته ملامته نه یې زه له لومړۍ څخه
پوهیدم چې ته د یاسر سره مینه لري زه تاته نصیحت
نه کوم دا زه تاته نه وایم هغه افغان دی او ته امریکایۍ
هغه مسلمان دی او ته عیسوۍ هغه جاسوس دی او ته
پوځۍ هغه بی تعلیمه دی او ته لیسانسه هغه تل خیانت
کوي او ته تل د نورو باورونه خپلوې پوهیږي ولې
تاته دا خبرې نه کوم ځکه مینه سرحد نه لري هغه له
هر ډول خنډ څخه تیریږي مینه دوه ډوله لري یو تباهې
او بله کامیابې که دې خپل عشق سره مینه ناکه رقابت
یعنې د هغې مثبت ټکې دې ځان کې راوستل او د هغه
منفې ټکې دې د هغه نه لري کړل دا کامیابه مینه ده
خو که دې هڅه وکړه هغه خپل غلام کړي او یا ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې غلام کړي نو دا ستا د تباهۍ لامل کيږي وګوره
ته د تباهۍ په لورې روانه يې ستا او د هغه هيڅه هم
شريک ندي ته هڅه کوي ځان د هغې غلامه کړي خو
واوره يوه بهرنۍ انجلۍ د افغانانو منځ کې ژوند نشي
کولې ټريسي هيليس ته وګتل وويل: که ستا دا ټولې
خبرې سرچپه وي بيا به زه په حقه يم؟
هيليس وويل: هو هغه وخت زه ستا ملاتړ کوم ياسر که
په هر ډول وي زه به يې ستا کړم ان د خپلې دندې،
پيسو او له ځانه هم تيريږم
ټريسي وويل: تا وويل هغه افغان دی نا هغه افغان ندی
هغه مسلمان ندی هغه خاين ندی هغه بی تعليمه ندی
هيليس په حيرانتيا وروګتل وويل: ته څه وايې؛ ايا دا
خبرې حقيقت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټریسي وخندل وویل: هو هغه وایې زه د ننګرهار یم
دروغ وایې هغه د ننګرهار ندی یو بی تعلیمه سړی
دومره هوښیار نه وي او کله چې هغه له ماسره وي د
اسلام هیڅ رکن نه مني بل مسلمانان خیانت کوي او د
پیسو لپاره د خپله ایمانه تیریږي خو دې ته پیسې
ارزښت نه لري د پیسو لپاره خیانت نه کوي او ډیر
زر به له دې ځایه لاړ شي خپلې سیمې ته ځکه دا دلته
د یو نامعلوم کار لپاره راغلی و او هغه به ډیر زر
بشپړ شي هغه نور دلته نه پاتې کیږي هغه ځې خپل
ځای ته خپلو ملګرو ته! د ټریسي سترګې لمدي شوي
هیلیس وویل: تا ډیر ښه وکړل چې زه دې خبر کړم
زه به ډیر زر د یاسر په اړه معلومات راټول کړم
ټریسي وویل: ځان مه په عذابوه ته هغه نشي پیژندلی
د هغه هر کار ګنګس کوونکې دی ما یې په اړه ډیري
څیړنې وکړي هره ورځ خو ونشوه پوهه نشوم هغه
څوک دی؟ څه لټوي؟ هغه دلته ولې راغلې؟ دا ټولې
خبرې به لړ وروسته معلومې شي هغه وخت چې کله
هغه ورک شي ځکه له ماسره یې وعده کړي چې ټولې
خبرې به درته کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلیس وویل: ستا د خبرو مطلب دا دی چې باید انتظار وباسو؟ ټریسي ورروګټل سر یې د هو په بڼه وخوځو هیلیس په فکر کې ډوب شو ماغزه یې ګنګس و نه پوهیده څه وکړي؟ ټریسي غلې ناسته وه.

وخت اوښته او د یاسر خوشحالي زیاتیده ټریسي حیرانه وه څه وکړي؟ په څه ډول یاسر راوګرځوي؟ هیڅ لار یې پیدا نه کړه د پنجشنبې ورځ وه غرمه مهال د قومندان حمید مخابرې کې غږ.ونه شو قومندان ځواب ورکړ اواز دې اورم ووایه یاسره

ـ قومندان صیب د امریکایانو ستر کاروان د مرکزه لس کیلو مټره لرې تیریږ.ي که برید پرې وکړئ ګټه ډیره کوي

ـ سمه ده څومره کسانو ته اړتیا ده چې درولیږ.م یې؟

ـ قومندان صیب زه په سیمه کې نه یم ته خپله دې جګړې ته لاړ شه

ـ ته چیرته یې؟

ـ زه بل چیرته یم زر نشم درسیدلی ته پنځوس کسان واخله بس دی زر ورشئ هغوې مهم شیان انتقالوي تاسو سره جګړې ته وخت نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سمه ده مونږ ورځو د هغوي شمیر څومره دی؟

ـ د دوه سوه زیات لوي وسلې هم لري الوتکه هم مرستې لپاره درتلی شي خو جګړه اسانه ده تاسو بریالې کیږی

ـ سمه ده همدا اوس ورځو مخابره بنده شوه دیرش کلن ځوان یاسر ته وکتل وویل هغه به ستا خبره ومنې په مرکز کې ټول شپیته کسان دي پنځوس دې ترې وویستل لس کسان به قومندان مرکز کې پرینږدې؟

یاسر وخندل وویل: هنري قومندان زما هره خبره منې که ورته ووایم ته مړ یې باور به وکړي

ـ دا خبره سمه ده چې بهرنیان د هغې سیمې تیریږي؟

ـ هو ټریسي راته وویل

ـ څه فکر کوي قومندان حمید به په پنځوس کسانو دوه سوه کسانو سره جګړه وکړي؟ زما په اند د هغې سیمې به یواځې د قومندان حمید او ملګرو غوښې ویوړل شي هغوي به یو هم ژوندی لاړ نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټریسي شته قومندان حمید او ملګري به یې ژوندي ووځې ټریسي به اجازه ورنه کړي تر څو بهرنیان جنګ وکړي خو قومندان حمید به د سخت برید لاندې راولې بیا زمونږ د کیسې لمبر دی زه به خپل او ته به خپل پلان بشپړ کړی

- ټریسي ولې ستا لپاره دومره قرباني ورکوي؟

- زما لپاره نه د ځان لپاره یې ورکوي

- هغه څنګه؟

- ټریسي د دې هر څه په بدل کې یو شرط لري

- څه شرط لري؟

- ډېر زر به خبر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان حمید دوې جګړې ته لاړل لومړیو کې جګړه اسانه وه خو وروسته سختیدله د قومندان حمید دوې درې کسانو په یو ځل د کل نفس ذایقة الموت ثم الینا ترجعون د ایات مطابق شهیدان شو او د دې نړی سره یې خدای پامانې وکړه لومړی ځل قومندان حمید ورخطا و هغه ډیر جنګونو ته تللې او بریالی راستون شوی و دا ځل یې زړه بدې چغې او نارې وهلی یو ساعت وروسته د مرکز پاتې لس کسان راورسیدل ټریسې چې کله هغوې ولیدل هیلیس ته یې وویل: کار نږدی دی باید شاتګ وکړو نور تلفات نه ورکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیلیس وویل: سمه ده د لس کسانو له لورې په بهرنیانو شدیدې حملې وشوې بهرنیانو ورو ورو شاتګ کوو یو ساعت وروسته د جګړې سیمه کې قومندان حمید د خپلې ډلې پنځه ویشت کسان وشمارل چې مرګ ته یې ښه راغلاست ویلی او شهیدان شوي و د بهرنیانو زیات شیان پاتې شو خو قومندان حمید ته د پنځه ویشتو مړو لیدلو توان نه و پریښی قومندان حمید په غوصه وویل: تاسو چا راولیږلې تاسو ته ما نه و ویلې مرکز پریښږدی د لس کسیزې ډلې یو تن رامخته شو وویل: قومندان صیب یاسر راغلی پنځلس کسان ورسره و مونږ ته یې وویل چې جګړه سخته شوې قومندان صیب دا کسان له بلې سیمې راغوښتې تر څو مرکز وساتې تاسو په بیړه قومندان صیب خواته ځانونه ورسوې پنځلس کسان هلته پاتې شو مونږ او یاسر دلته راغلو بیا یې شاته مخ واړو وویل: یاسره یاسره چا غږ ونه کړ

قومندان حمید وویل: یاسر دلته راغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس وویل: هغه سره موټر سایکل و له مونږ رامخکې
شو قومندان حمید په لوړ اواز وویل یاسر چا لیدلی؟ د
ټولو جواب منفي و هیچا نه و لیدلی قومندان وویل: زه
حیران شوم له دې معلومیږي یاسر له مونږ سره
خیانت وکړو هغه ماته وویل د سیمې ډیر لرې دی خو
تاسو وایې چې هغه ویل ما درلیږلی قومندان حمید
مخابره راواخیسته د نږدې سیمې قومندان ته یې
مخابره وکړه وویل: قومندانه تا زمونږ مرکز ته کسان
راستولې د هغه جواب منفي و قومندان حمید ترې
وغوښتل تر څو د شهیدانو په وړلو کې ورسره مرسته
وکړي د هغې لورې جواب مثبت و وویل چې ډیر زر
به کسان درولیږو قومندان حمید پنځه کسان له ځان
سره کړل نورو ته یې وویل همدلته پاتې شئ مرسته
رارسیږي بیا یې احمد ته مخ واړوو وویل احمده
کلیوالو ته خبر ورکړه تر څو هغوي هم راشي مونږ
مرکز ته ځو د دې خبرو وروسته د مرکز په لورې
روان شو کله چې ورسید ویې لیدل مرکز کې هیڅوک
نشته شړ پروت دی په بیړه ورغلل مرکز یې وپلټه
څوک نه و د یاسر موبایل او مخابره دواړه بند و یو
کس دیوال ته وګتل نږدې څه پراته و مخکې ورغلی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاسر مخابره ټوټه ټوټه پرته وه د مرکز له دننه یو کس راغلې وویل قومندان صیب د یاسر کوټه خالي ده ټول سامان يې وړی دی یو کس په بیړه د سرک له غاړي راغلی وویل: قومندان صیب یو کلیوال راته وویل:
یاسر يې لیدلی موټرو ته يې څه بارول پنځلس کسان و درې موټري وي ټولې کرولاګانې وي سیلورې رنګ يې درلود قومندان حمید په بیړه خپلې کوټې ته ننوت تر ډيره يې شاوخوا ګتل څه يې تر نظر شو د کوټې شیان یو ځل وران شوي او بیا جوړ شوي و ولاړ کس ته يې د باندې د وتلو وویل کس ووت هغه تر ډيره په خپله کوټه کې څه ګتل ورو يې له ځان سره وویل
ویوړل دومره په اسانۍ خو هغه څوک دی د چا لپاره يې دا خیانت ترسره کړ په زور يې چغه کړه نااااااااا د میز له سره يې د اوبو ډک ګیلاس جګ کړ ټک شو ټوله کوټه کې د شیشو ټوټې خورې شوي په دیوال سپینې اوبه ښکته راروانې وي کس په بیړه راننوت قومندان حمید سترګې له ډيرې غوصي سرې وي په غوصه يې وویل: ټولو مرکزونو ته د یاسر په اړه خبر ورکړئ باید ژوندی پاتې نشي کس سر وخوځو او په بیړه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريې کاله تير شو د قومندان حميد د زړه ورتيا کيسې
تر لرې سيمو ورسيدې د پنځه ويشت شهيدانو له وينو
سلګونه اتلان راپيدا شو دوې نه ډاريدل له ځانونو يې
بمونه چاپير او د بهرنيانو په منځ کې چاودنه ورکړه
سپيڅلې شهيدان شو او نومونه يې تاريخونو وليکل خو
د ځينو مرګونه شکمن و هغوې هم له ځانونو بمونه تاو
کړل د ښار منځ کې په هغه افغانانو بريدونه وکړل
کومو چې د امريکايانو سره دوستې او د طالبانو سره
دښمنې لرله دا چاودنې سپيڅلې نه وې د ماشومانو،
ځوانانو او تورسرو وينې په مردارو لښتيو کې وبهولې
او غوښې يې په ديوالونو ونښتې دا بيګناه افغانان و
هغه افغانان چې پنځه وخته لمونځ يې کوو د ويده کيدو
په وخت به يې اخرى او د خوب وروسته لومړى خبره
به يې دا سپيڅلې کلمه وه لااله الا الله محمد الرسول الله
په دوې د کفر ټاپې نه وې خو بيا هم وژل کيدل
وارثينو يې په دې خبره صبر کاوه ومن قتل منکم
متعمدا فجزؤه جهنم خالدا فيها نور د هغوې د تسليت
لپاره هيڅ هم نه و ټريسي اوس جګړه نه کوله د ياسر
د ورکيدو وروسته ټريسي هم له دندې استعفا ورکړه د
جمعې ورځ وه قومندان حميد بيا سرلوړى او فاتح

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستون شو خپلې خونې ته لاړ خوشحاله ښکاريده څو
دقيقې وروسته يو کس راننوت وويل: قومندان صيب
تاسو ته چا څشی راستولې قومندان وويل: سمه ده
راوړه لږ وخت ووت کس د يو کاڼن سره راننوت کاڼن
کوچنۍ و د قومندان حميد مخې ته يې کيښود وويل:
ګتلی مو دی زيانمن ندی قومندان حميد وويل: سمه ده
کس ووت د کاڼن سر يې خلاص کړ لاس يې ورواوږد
کړ توپانچه يې راواخيسته په ځير ځير يې وروګتل
اشنا وه په زهن يې فشار راوست  څو کاله پخوانۍ
صحنه يې په ياد شوه د ياسر د راتګ لومړې ورځې
وې اول جنګ کې اته کسان وويشتل دا توپانچه
قومندان حميد د انعام په ډول ورکړه قومندان حميد په
بيړه توپانچه واړوله راواړوله چاجور يې راوويست د
مرميو په ځای په کې کاغذ پروت و په بيړه يې
راواخيست خلاص يې کړ په حيرانۍ يې وروګتل کاغذ
باندې په وينو څه ليکل شوي و قومندان حميد په سختۍ
خط ولوست د ياسر په اړه معلومات زر يې کاڼن ته
وروګتل له کاغذونه ډک و کاڼن يې په بل مخ واړوو
کاغذونه ولويدل ټول يو له بل سره نښتې او د کتابچې
شکل يې غوره کړی و د کتابچې څو پاڼې واړولې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطونو ډکې وې منځ يې راواړو حيران شو د کتابچې
منځ کې پاکټ پروت پاکټ يې خلاص کړ د ډالرو د
سلګونانو ډک و وشميرل يې څلويښت دانې و په پاکټ
ليکل شوي و ستا د مرستې او له ما سره د ښو بدله به
هيڅکله ادء نه کړم خو دا د يوې تحفې په توګه ومنه
قومندان حميد پيسې جيب کې کېښودې کتابچې سر ته
راغلی خط ته يې وکتل بيا يې په لوستلو پيل وکړ
کتابچه کې ليکل شوي و زما نوم سامر سيټ دی د
جرمنې برلين ښار کې زيږيدلی يم مور مې د روس او
پلار مې د جرمنې و زما مور ډاکټره خو پلار مې د
جرمنې لپاره په پوځ کې دنده درلوده له کوچنيوالې مې
د وسلې سره مينه وه شپږ کلن وم په وسله مې نښنه
ويشتل زده کړه پلار مې راسره مخالفت نه کوو هغه
به تل زه تشويقولم دولس کلنۍ کې مې د يو کس سره
معرفت وشو هغه څلورويشت کاله عمر درلود ځان يې
جيمز سکاټ راوپيژنده هغه زما د پلار ملګری و زما
خبرې ورسره ډيرې شوې پوهه شوم په ملي امنيت کې
دنده لري خوښيدل مې جرمنې ته خدمت وکړم خبره
مې له خپل پلاره هم پټه کړه د جيمز سکاټ په مرسته
مې ځان استخباراتو کې شامل کړ اوه لس کلنۍ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کسانو شمیرل کیدم د جرمنې ډیرو دښمنانو پښې
مې تر قبرونو ورسولې او ومې وژل یوه ورځ جیمز
سکاټ سره په خبرو بوخت وم د هغه مخې ته څه
اسناد پراته و دا اسناد ما له هغه سره څو ځل لیدلي
وخو هغه هر ځل له ما پټول قسمت مې ښه و جیمز
سکاټ ته زنګ راغلی هغه د باندې ووت په بېړه
ورغلم اسناد مې پرانیستل ومې کتل زړه مې خولې ته
راغلی دا خبره مې نه منله اسناد زما د پلار په اړه و
هغه روسې ته جاسوسې کوله حیران لاړم اسناد مې
بیرته کیښودل کله چې جیمز سکاټ راغلی ومې غږوه
څه یې نه ویل مجبور مې کړ اخر یې ومنله زما پلار
په کومه ورځ زما له مور سره پیژندلې و د روسې
جاسوسی شروع کړي وه د پلار د کارونو په اړه مې
یوه ورځ پلټنه وکړه دومره خیانتونه یې کړي و چې
حد یې نه درلود هغه بیګناه خلک وژلې و د جرمنې
محرم یعنې پټ اسناد یې روسې ته سپارلې و اخ زما
پلار دومره فاسد او مردار سړی و مغزو مې کار ونه
کړ د شپې دولس بجې کور ته لاړم پلار مې شراب
څښلې و په ځان نه پوهیده مور مې ویده وه توپانچې ته
مې مرمۍ تیره کړه دوه ډزه مې وویشت مور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاڅيد په بېړه صندق ته ورغله ما ورګتل توپانچه يې
راواخيست غبږ مې کړ زه يم سامر وويل که هر څوک
يې خو د روسې دوښمن يې ته بايد ووژل شي ټک شو
سر مې ښکته کړ سره مرمۍ په ديوال ولګيده صبر
مې ونه کړ توپانچه مې هغه ته ونيوله له مخ څخه يې
سرې وينې لاړې ورمخکې شوم ساه يې په سختۍ
اخيسته بل ډز مې وکړ ساه يې بنده شوه د پوليسو د
موټرو اوازونه شو ګاونډيانو شور جوړ کړ له کړکۍ
مې ودانګل لاړم خپل دفتر ته يو ساعت وروسته يې د
روغتون څخه خبر راکړ پلار او مور مې وژل شوي
و سهار مې خاورو ته وسپارل تر لږه وخته خبره توده
وه ورو ورو د خلکو له ذهنونو ووتله زه يې هم کيسه
کې نشوم يوويشت کلن وم د عملياتو لپاره يې مصر ته
وليږلم يو کال مې تير کړ د اسلام دين په اړه مې
معلومات وکړل ښکلی دين و خو ومې نه منه ځکه
عيسويت راته د هر څه مهم و درويشت کلن وم جيمز
سکاټ خبر راکړ په بيړه يې ځانته غوښتې وم ورغلم
قومندان ورخطا و د ورخطايی لامل مې وپوښت
ځواب يې لنډ و د دفاع وزير غوښتې يو هغه خبر
شوی چې ستا پلار تا وژلی بايد زر ورشو په احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې غوښتې يو خو بيا هم بايد احتياط وکړ ورخطا نشوم ځکه پلار زما و او ما داسې کار نه و کړی چې د دفاع وزير سره مې اړيکې خرابې شي ورغلو يو ځوان پوځې سالون ته رهنمايې کړو دننه ورننوتو حيرانونکې وه د بهرنيو، کورنيو او دفاع وزارتونو وزيران موجود و ځو جنرالان يې هم څنګ ته ناست و د ټولو روغبړ تود و تر ډيره زما په کارونو غږيدل اخر هم زمونږ خبري ته راغلل د دفاع وزير وويل: مونږ خبر شوي يو چې تا خپل پلار او مور ووژل د دې له امله چې جرمنې ته يې خيانت کړی د جرمنې د ټولو وګړو په استازولې له تا مننه کوم د دې خبري وروسته ټول پاڅيدل تر ځو زه پاڅيدم هغوي ماته سلامې وکړه وزير صيب وويل: جرمنې ستا په ښير د اتلانو مننه کوي بيرته کيناستل ما فکر وکړ خبره ختمه شوه خو داسې نه وه هغه خپلې خبري ته راغلی له ما يې غوښتنه لرله زه بايد افغانستان ته تللی وی نه مې نشو ويلی ومې منله ومې پوښتل ولې بايد لاړ شم؟ وويل د رازونو پلټلو پسي دا چې کوم رازونه دي وروسته به خبر شي مونږ پوهيږو ته دا مسووليت شي پوره کولی تر يو ساعته مو خبري وکړي نور ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړلو يوه مياشت مې تمرينات تر لاسه کړل افغانستان ته راغلم تذکره او نور مهم شيان يې راکړل ستا په اړه يې راته وويل هغوي ته ټول ځيرلې وي ستا ښه او بد صفات يې راته وښودل ستا په اړه راته يو مخ پټې کس يونيم ساعت خبرې وکړي د افغانانو دودونه عنعنات فرهنګ د اسلام دين او نور ډير څه يې راوښودل دري مياشتې مې زده کړي وکړي پښتو مې روانه نشوه ويلی خو د ډيرو ښه وم شپږ مياشتې ووتې ما ډير څه زده کړل په پښتو به فصيح او روان غږيدم لامل يې د ډيرو افغانانو سره اشنايي وه د پښتو کتابونه مې ولوستل د اسلام په اړه مې مصر کې ډير څه لوستي و خو د افغانستان اسلام مې هم زده کړ ډير فرق يې درلود په مصر کې د اسلام احکام اسانه و د اسلام سخت او لوي رکن يې لوي معرفي کوو او کوچنی رکن کوچنی خو دلته خبره سرچپه وه د چادری په سر خلک وژل کيده د زنا سزا مرګ و غل ته يې کنځل کول جنګ د مرګ کار و د بل وژل اتلولې او ستا وژل بيغرتې وه که به دې قاتل وښه د پيغور به شوي او که به دې د يو کس په بدل کې دوه ووژل بريت به دې تاوول ته اتل وي ستاسو خراب دودونه ډير و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولور نه په اسلام کې شته او نه په فقه کې خو تاسو د
مهر په نوم اخیسته ښځه به خبره نه وه تاسو به یې
نکاح تړلې وه که چا ډیره پریښوده هر فسادې کار یې
کولی شو چرس، پوډر، سګرټ، شیشه، نصوار او
نورې نشي مو د بدماشۍ په نوم څکلې خو که به چا
شراب وڅکل له دینه به مو ویستو د یو کس سره
کیناستم عصري علومو په اړه وغږیدم مکتب مې ښه
یاد کړ کس په غوصه وویل: هلته خلکو ته کفر ښایې
نه په دین کې شته او نه په سادین کې بیا یې څه ته
وواېو د هغه د پوهولو لپاره مې د قرآن د "زمر" ایات
ولوست آیا برابر دي  هغه کسان چې پوهیږي او  هغه
کسان چې نه پوهیږي جواب یې راکړ دې ایات کې
دینې تعلیم یادوي چې باید وشي د دین په اړه مې
وپوښته د لمانځه فرضونه یې نه و زده لمونځ یې غلط
لوسته کلمه یې هم غلطه ویله خو فتوې یې د امام ابو
حنیفه نه قوي وي خپله هره خبره یې سمه او د بل هغه
یې غلطه بلله که به یو عالم د دې خبري سره مخالف و
جاسوس منافق فاسد او د کفر فتوې به یې پري لګولې
فکر مې کوو دا داسې دی وروسته پوهه شوم د
افغانستان هر وګړی همداسی دی زه خیر ستا خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



درغلم زر بلد شوم څرنګه چې راته ویل شوي و
همداسې چلیدم لږ وخت کې مې ستا باور ترلاسه کړ
ماته ویل شوي و باید داسې وچلیږم چې ځینې مې
خاین او ځینې مې اتل وګڼي ما همداسې وکړل اړیکې
مې له ټولو سره ښې پاللې زیات ملګرې مې پیدا کړه
ما تل ستا د خوښې کارونه کول ته مې له ځانه
خوشحاله کړي تا هم راڅخه مرسته ونه سپموله تل دې
په شاه وډبولم ماتې ته دې پرینښودم زه پوهیدم ته ډارن
کس نه خوښوي ستا سرتیرۍ باید چالاکه او زړور وي
ما هم بې زړه توب ونه کړ همداسې لاړم د تاسین
مرګ ته دې فکر دی د تاسین د زړورتوب کیسې زه
هر وخت ملګرو ته کوم ورته وایم نړیوال ماتې
خوري په افغانستان کې د تاسین په څیر سرښندونکې
ځوانان او د قومندان حمید په څیر چالاکه قومندانان
دي هغه ورځ بهرنیان هغه انجلۍ راوغوښتل کومه چې
مونږ نیولې وه ما د هغه د دریشۍ په تنۍ کې تړل
شوی جی فی اس لرې نه کړ انجلۍ له ما سره اړیکه
ټینګه کړه ما هم ترې ساده شیان وغوښتل دا د هغه
سره د اړیکو ټینګولو په خاطر انکار یې ونه کړ ما هم
بیغورې ونه کړه هدف ته نږدې شوی وم پوهیدم ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور په ما زيات دی ما خپله فرموله وکاروله کاميابه وه د انجلۍ اړيکې راسره کلکې شوي په خپل دام کې مې راګيره کړه له ما يې وغوښتل تر څو د امريکايانو جاسوسي وکړم ومې منله سخت نه وه بيځايه راپورونه به مې ورکول هغه وسايل چې زما په کاريدل له هغې مې ترلاسه کول خو خبره برعکس شوه تواب، طاهر، احمد، يوسف، فرهاد او څه نورو کسانو زما په اړه تحقيق پيل کړ تر څو معلومه کړي زه جاسوس يم او که نه احمد مې ملګری و خبر يې راکړ پوهه يې کړم دوه زره ډالر مې ورته مخامخ جيب کې کيښودل هغه له ما ډيري پيسې اخيستې وې خو مرسته يې د پيسو څخه زياته راسره کړي وه ما هم پام ډير کړ هغوي مې نه په دې پوهول چې زه جاسوس يم او نه به مې ځان ملايکه کوو نن ملايکه سبا شيطان په دريمه ورځ به مې د انسان کردار اداء کوو هغه کمپيوټرې چې ما ترلاسه کړي ستا اسناد او د طالبانو روزنه مې پرې نه کوله ما بايد ته ځارلی وی کمپيوټرې مهمې وې زه پوهيدم ته به ډير زر د رازونو ځايونه ماته راوښايې ما د هغه امريکۍ انجلۍ يعنې ټريسي څخه ټوپک هم اخيستی و دا ټوپک ډير مهم و يواځې امريکايانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمالو د دې ټوپک نښه هیڅکله هم خطا نه تلله
ځانګړنه یې دا وه چې د موبایل، لوډسپیکر، کمرې او
نورو شیانو کار هم ترې اخیستل کیده پلار مې د
جرمنې په پوځ کې قومندان و یوه ورځ یې دا ټوپک
راته معرفی کړ بریا مې ورکې وه ما هم واخیست زه
خیر ټریسي د امریکا سره خیانت شروع کړ د امریکې
ډیر مهم رازونه یې راته وویل هره ورځ به یې راپور
راکوو هدف ته نږدې شوی وم اخر هم پوهه شوم هغه
څه چې زه یې لټوم ماته ډیر نږدې دي هغه ستا خونه
کې پراته وه بیغورې مې ونه کړه پلان مو جوړ کړ له
ټریسي مې مرسته وغوښته حیرانونکې جواب یې
راکړ مرسته یې کوله خو په بدل کې له ماسره ګډ ژوند
غوښته ومې منله خوشحاله شوه زما د پلان مطابق
لاړه خپل ملګرې مې راوغوښتل په پلان مې پوهه کړ
شروع مو وکړه ته مې لومړی او نور کسان مې
وروسته درپسې درولیږل ټریسي سره مې اړیکه نه
شکوله جګړه باید تا ګټلی وی خو په سخته تا اسانې
غوښته تلفات مو زیات شو مونږ خپل شیان واخیستل
ټریسي ته مې د شاته تګ وویل هغه شاته لاړه اتلس
امریکایان ووژل شو باید مرګ ژوبله زیاته وی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسناد د پنځه سوه کسانو د ژونده مهم و کار وشو په
بیړه ووتلو د ټریسي د بینس قومندان هیلیس هم راسره
جوړ و هغه د ټریسي خوشحالۍ غوښته زما مرګ هغه
ته په زیان و مخنیوې یې ونه کړ مرسته یې راسره
وکړه لږ وخت یې ونیو جرمنۍ ته ورسیدو د رازونو
کتاب مې راوسپاره وروميې ګټل حیران یې کړم دا د
پیاوړو هیوادونو او د سیمې د زبرځواکونو جنایتونو په
هکله و هغه جنایتونه چې هغوي کړي و ټول د اسنادو
سره و پوهیدم تاسو دا نشې ترلاسه کولی خو بیا به هم
ته ما ونه ښنې ټریسي لږ وخت وروسته استعفا ورکړه
جرمنۍ ته راغله واده مو وکړ هیلیس هم و ټریسي د
اسلامه سخته کرکه درلوده اسلام یې د وحشت دین په
نوم یادوو زه هم عیسوې وم باک مې نه راتله یو وخت
مې د خپل ژوند کیسه ورته وکړه اسلام چې څه ډول
دی همغسې مې وروپیژنده ورته ومې ویل: اسلام چې
څه ډول ښکاری داسې ندی د دې دین مثال د اوبو دی
اوبه بی رنګه بی خونده او بی بویه دي خو که نه وي
انسانیت ټول له منځه ځې اسلام هم د اوبو په څیر دی
په نشتون به یې دا کاینات ختم شي دا چې تاته اسلام
تور بد او خراب ښکاري داسې دی لکه اوبه چې تور

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوښې کې واچوي اوبه همغه وي ګټه هم همغه لري که
ګټه ترې وانخلو له منځه ځو خو هغه اوبه مونږ ته
تورې ښکاري فکر کوو دا خرابې دي خو دا تور
لوښی اوسنې مسلمانان دي دوی تور او فاسد دي اسلام
همغه دی خو دوي يې نورو ته تور او بدرنګه معرفی
کوي که غواړو د اوبو حقيقت معلوم کړو چې څنګه
دي بايد اوبه د تور لوښې بل لوښی ته واچوو پوهه به
شو چې اوبه همغه دي لوښی تور دی همداسې اسلام
هم دی که وغواړو د دې په حقيقت پوهه شو بايد د
مسلمانانو څخه اسلام راواخلو او په ځان يې عملې
کړو هله به مونږ پوهه شو چې اسلام د بريا دين دی
خو مسلمانانو بدنام کړی دی ټريسي مسلمانه شوه له ما
يې وغوښتل چې مسلمان شم ومې نه منله دوه مياشتې
وروسته يې راڅخه طلاق واخيست مصر ته لاړه ما
هم لږ وخت وروسته اسلام ومنه ټريسي مې راياده
شوه مصر ته لاړم د ډيرو هڅو وروسته مې پيدا کړه
کله چې خبره شوه زه مسلمان شوی يم خوشحاله شوه
هغه ټريسي چې يو وخت يې له ما سره مينه درلوده
اوس له ما ستر کوو په پرده کې د خپل خاوند مخکې
له ما سره وغږيده نوم يې ځانته ښکلې انتخاب کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله ما هغه ته د خولې رض او ضرار رض د جګړو او اتلولې کیسې کړي وي د هغه هم همدا نوم خوښ شوی و بیرته جرمنې ته لاړم هلته مې د یوې افغانې سره واده وکړه افغانان مې خوښیږي رښتیا هیلیس هم د ټریسي په هڅو مسلمان شوی ټریسي د یو عرب سره واده کړی یو څوي لري نوم یې زما په خوښه ورته ایښې تاسین "حمیدې"

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**